AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

حفیظ الله خالد

تاریخ : د دسامبر اتمه ۲۰۲۰

# پـــردی جنگ

توپک دې په اوږو ایښي او وژني مسلمان
ظالمه ځان دې پوه که په آیات د پاک قرآن

د یو انسان وژنــــه ده د درست بشر وژنـــه
دا امـــر دی مؤمن تـــه له طرفـــه د سبحان

که یوانسان دې وژغوربشریت د دی ژغورلي
ته وګوره د خدای رحـــم او فضـــل په انسان

د خدای پـــه نـــامه هره ورځ ته وژنـﺉ انسانان
لوی رب خو دی کریم رحیم ،غفور اومهربان

د وینی ډک ویالي دي نن په هره خوا روان
د کونډو رنډو چیغی رسیـــدلي تـــر آســـمان

فتوا درکړی چا چې پول سرک کړه دلته روان؟
کافره د دې خاوری کوراوکلی زوړاوځوان؟

دا جنګ دی د پردو او ستا توپک ده د پردو
یـــوازې د جنګونـو قرباني دي، نن افغـــان
* * * * *

ح خالد / ویانا

د دسامبر اوومه ۲۰۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ